# Higher Education Weekly

شماره یکصدو هشتادو هشتم - سال نهم- ثور ۱۴۰۱ هـ.ش

https://mohe.gov.af

## معین علمی وزارت تحصیلات عالی از جریان آزمون بست های کادری دیدار نمود

معـین علمـی وزارت تحصـیلات عـالی و هیئـت همراه شان، از جریان آزمون بست های کادری پوهنتـون تعلـیم و تربیـه کابـل دیـدار بعمـل آوردند.



دکتـور لطـف الله خیر خـواه معین علمـی وزارت تحصـیلات عـالی در حالیکـه شـاکر وحیـدی رئـیس تضـمین کیفیـت و اعتبـاردهی و دکتـور نظر محمـد رئـیس ارتبـاط خارجـه و تنظـیم بـورس هـا نیـز وی را همراهـی مـی کردنـد، از جریـان پروسه آزمون بست هـای کـادری پوهنتـون تعلـیم و تربیه کابل دیدار بعمل آورد.

معـین علمـی وزارت تحصـیلات عـالی در ایـن دیـدار از هیئـت ممـتحن خواسـت تـا در قسـمت اخـذ امتحـان شـفافیت را درنظـر گرفتـه و حـق را به حقدار بسپارند .

۷

## د لوړو زده کړو وزارت د مالي او اداري معین په مشرۍ د یاد معینیت د انسجام ناسته ترسره شوه

د لـوړو زده کـړو وزارت د مـالي او اداري معـین مولـوي حـافظ محمـد حامـد حسـیب پـه مشرـی د مالي او اداري معینیـت د انسجام ناسته ترسره شوه .



یاده ناسته د قرانکریم په مبارکو ایاتونو سره پیل شوه او وروسته د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین وویل، چې د چارو د بریا راز له ا صولو او قوانینو سره سم د کارونو په تر سره کولو کې دی. نوموړي وویل: «اصـلي بریا هغه ده، چې موږ په صـادقانه ډول د خپلو مشرانو له لوري را سپارل شوي کارونه پای ته ورسوو او خپلو دنیوي او اخروي موخو ته ورسېږو.»

وروسته له اجنډا سره سم د مالي او اداري معینیت تر چتر لاندې رئیسانو د اړوندو ریاستونو د موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحثونه او لازمې پرېکړې وکړې، ناسته د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

## رئیس عمومی جامعات دینی در رابطه به ارزیابی اسناد فارغان جامعات دینی به مسؤولان پوهنتون هرات معلومات ارائه نمودند

مولـوی سـیف الـدین حـماد رئـیس عمـومی جامعـات دینـی و هیئـت همـراه شـان طـی سـفر کـاری بـه ولایـت هـرات، در رابطـه بـه ارزیـابی اسـناد فارغـان جامعـات دینـی بـه مسـئولان پوهنتون هرات معلومات ارائه نمودند.



رئـیس عمـومی جامعـات دینـی وزارت تحصـیلات عـالی و هیئـت همـراه شـان در جریـان ایـن سـفر، پیرامــون چگــونگی طــی مراحــل، ارزیــابی و موضـوعات تخنیکـی اسـناد فارغـان مـدارس علـوم دینــی بــه مســئولان پوهنتــون هــرات معلومــات ارائـه داشـته و در راسـتای تطبیـق آن بـه مسـئولان متذکره رهنمایی های لازم نمودند.

در مقابـل مسـئولان پوهنتـون هـرات از تشریـف آوری هیئــت وزارت تحصــیلات عــالی بــه آن پوهنتـون ابـراز خرسـندی نمـوده وعـده سـپردند کـه در زمینـه هـر آنچـه لازم باشـد، همکـاری خواهند کرد.

## په پنجشیر لوړو زده کړو مؤسسه کې د لوړو زده کړو وزارت د اسنادو ارزونې رئیس په مشرۍ یو ورځینی ورکشاپ دایر شو!

د لــوړو زده کــړو وزارت د اســنادو د ارزونــې رئـیس مولـوي محمـد داوود حقـاني پـه مشرـۍ یـوه پـلاوي پـه پنجشـېر لـوړو زده کـړو مؤسسه کې یو ورځنی ورکشاپ دایر کړ .

په دغه ورکشاپ کې د پنجشېر لوړو زده کړو مؤسسې د مسـؤلانو سربېره، د شـمال زون کاپیسـا او پروان پوهنتونونو مالي او اداري مرسـتیالانو هم ګډون کړی وو، د لوړو زده کړو وزارت د پلاوي له لوري د اسـنادو د ارزونې او طی مراحل کولو په اړه معلومات ورکړل شول.



صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی

مدیر مسوول: مدیرجان کوټوال

هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی

گزارشگران: کاوون رمز، محب الله امیري و قاسم جویا

تصویر بردار: احمد سیر معرفت

صفحه آرا: عنایت الله حنیفی

جمع آوری مواد هفته نامه: زمری یعقوبی

نشانی: کارته چهار, کابل افغانستان

سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

تیراژ: ۲۵۰ نسخه

محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی

وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com

**ګرانه لوستونکیه!**

که تاسې غواړئ چې ستاسو لیکنې په لوړو زده کړو اونیزه کې خپرې شي، نو کولای شئ چې خپلې لیکنې، نیک نظرونه او سالم وړاندیزونه په لاندې پتو را ولیږئ.

**خوانندگان گرانقدر!**

تقاضـامندیم نظریــات و پیشــنهادات تــان را جهــت بهبــود نشرات این هفته نامـه بـا مـا شـریک نمـوده و همچنـان مطالب و نوشته هـای تـان را جهت نشـر در ایـن هفتـه نامـه از طریـق ایمیل و یا بـه شـکل مستقیم بـه ریاسـت اطلاعـات، نشـرات و روابط عامه ارسال دارید.

# لوړو زده کړو اونیزه

هفته نامه تحصیلات عالی

۱۸۸ مه ګڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل – غویی

https://mohe.gov.af

## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د اختر په لومړۍ ورځ له کادري روغتونونو او لیلیو څخه لیدنه وکړه!

د لــوړو زده کــړو سرپرســت وزیــر او ورســره مــل پــلاوي د تدریســي روغتونونــو او کابــل پوهنتــون لــه لیلیــې څخــه لیدنــه وکړه .

د نېکمرغــه کــوچني اختــر پــه لــومړۍ ورځ د لــوړو زده کــړو سرپرســت وزیــر الحــاج مولــوي عبــدالباقي "حقــاني" او ورســره مــل پــلاوي د مرکــز پــه تدریســي روغتونونــو کــې لــه ناروغــانو، ډاکترانــو، اداري او خــدماتي کــارکوونکو ســره وکتــل او د ناروغــانو د پوښــتنې ســربېره یــې طبــي، اداري او خــدماتي کــارکوونکو او ناروغــانو تــه د هېــواد لــه بشــپړې آزادۍ وروســته د لــومړي نېکمرغــه اختر مبارکي وویله .



همدارنګــه د لــوړو زده کــړو وزارت ذکــر شــوي پــلاوي د کابــل پوهنتــون د لیلیــې لــه محصــلینو ســره وکتــل او د نېکمرغــه اختــر مبــارکي یــې ورکــړه. پــه نومــوړې لیدنــه کــې محصــلینو د وزارت لــه نــوي مشرتابه څخه مننه وکړه او

۷

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی نشستی با نماینده خاص کمیته صلیب سرخ پیرامون امضای تفاهمنامه جدید صحبت نمودند

سرپرسـت وزارت تحصـیلات عـالی در نشسـتی بـا نماینـده خـاص کمیتـه جهـانی صـلیب سرخ بـرای افغانسـتان، روی چگـونگی امضـای تفاهمنامـه جدیـد در ارتبـاط بـا شـفاخانه هـای کادری، بحث و گفتگو نمود.

در نشسـت یـاد شـده ریتـو شـتاکر نماینـده خـاص کمیتـه جهـانی صـلیب سرخ، از همکـاری هـای همـه جانبـه وزارت تحصـیلات عـالی تشـکری نمـوده، روی تـداوم، شـفافیت و همکاری های مشترک تاکید نمود.



موصـوف هـم چنـان یـاد آور شـد کـه تفاهمنامـه قبلـی فـی مـابین وزارت تحصــیلات عــالی و صـلیب سرخ بـه خـاطر جلــوگیری از ســقوط شـفاخانه هـای کـادری بـا عجلـه امضـا شـده بـود کـه در حـال حـاضر نیـاز اســت در تفاهمنامــه جدیـد جوانـب مختلـف و اسـتمرار آن مـدنظر گرفته شود.

در ایــن نشســت کــه بــه ریاســت مولــوی عبــدالباقی حــق انــی سرپرســت وزارت تحصــیلات عــالی دایــر شــد، دکتــور فضــل الــرحمان رحمانـی رئـیس پوهنتـون طبـی کابـل، مولــوی احمــد تقــی ســخنگوی وزارت تحصــیلات عــالی و هیئــت کمیتــه جهــانی صلیب سرخ شرکت نموده بودند.

مولـوی عبـدالباقی حقـانی سرپرسـت وزارت تحصــیلات عــالی از آمـاده ســازی مــواد تفاهمنامــه جدیــد ابــراز خرســندی نمــوده گفــت: « تفامنامــه جدیــد در هماهنگــی مشترک وزارت تحصیلات عالی و

۷

## لوړو زده کړو وزارت علمي معین، د انقرې تخنیکي پوهنتون له رئیس سره ناسته ترسره کړه!

د ترکیـې هېـواد د انقـرې تخنیکـي پوهنتـون رئـیس د لـوړو زده کـړو وزارت علمـي معـین سـره د افغـان محصـلینو جـذب او کـاري فرصـتونو د ورکـړې پـه موخـه ناسته ترسره کړه.



پـه یـاده ناسـته کـې د لـوړو زده کـړو وزارت علمـي معـین دوکتــور لطــف الله خیرخــوا ، ددې وزارت مــالي او اداري معـین مولـوي حامـد حسـیب ، د محصـلانو چـارو رئـیس سـید اسـماعیل روحـاني او د بهرنیـو اړیکـو او بورسـونو د تنظـیم رئـیس دوکتـور نظرمحمـد پـه شـمول د ترکیـې هېـواد د انقـرې تخنیکـي پوهنتـون رئـیس مـراد علي او ورسره پلاوي ګډون کړی وو.

۷

## سرلیکنه

### تبلیغاتي جګړه

تبلیغاتي جګړه د اذهانو جوړولو او له خپل مسیر څخه یې د راګرځولو لپاره تر ټولو ښه وسیله ده. تبلیغاتي جګړه معمولاً د خپل دښمن د کمزوري کولو، د خپلو پوځونو د مورال لوړولو، پر نورو د خپل کلتور تپلو او بالاخره خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کارول کېږي.

په تبلیغاتي جګړه کې د مقابل جانب منفي ټکي راپیداکېږي او هغه له خپلې کچې څو چنده لوړ او زیات ښودل کېږي. دغه راز په ځینو مواردو کې ان پروپاګند کوي، تر څو خپل دښمن کمزوری وښیي او په دې سره د خپلو کسانو مورال لوړ کړي.


د اوسنۍ نړۍ د پرمختللو هېوادونو د استخباراتو یوه ځانګړې برخه د تبلیغاتو په برخه کې کار کوي، د تبلیغاتو لپاره ځانګړي خلک روزي، اسانتیاوې ورته برابروي او ډېر لګښت پرې کوي.

دغه راز ځینې اشخاص او ډلې له ځینو کسانو او ډلو سره د شخصي عقدو او دښمنیو له امله د هغوی پر وړاندې تبلیغاتي جګړه کوي، تهمتونه ورپورې تړي او غواړي چې د تبلیغاتي جګړې له لارې د خپل مقابل جانب کار ناسم، کم او منفي وښیي.

په دې وروستیو کې د ځینو مغرضو کسانو او ډلو له لوري د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په نامه په ټولنیزو رسنیو کې ځینې جعلي پاڼې جوړې شوي، چې پکې وخت ناوخت منفي تبلیغات او پروپاګند کوي. په یادو پاڼو کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په نامه داسې خبرونه او معلومات خپروي، چې له عقده لرونکو او د نظام مخالفو کسانو پرته، نورو ته د منلو وړ هم نه دي، ځکه یاد معلومات او خبرونه په داسې بڼه لیکل کېږي، چې پخپله په خپلو دروغو شاهدي ورکوي.

نو د لوړو زده کړو وزارت رهبري پرته له دې چې د منفي تبلیغاتو او تبلیغاتي جګړې تر اغېزې لاندې راشي، په لوړ همت او ډېره انرژۍ خپلو کارونو ته دوام ورکوي او د هېوادوالو د لا ښه تحصیلي خدمت هوډ لري.

په درنښت
اداره




### د اسراء او معراج واقعه:

په داسې حال کې چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دعوت، د ظلم او تېریو په مینځ کې کامیابه او ګړندي قدمونه اخیسته د نور او رڼا ځلیدونکو ستورو د اسمان په څنډو کې پړکونه وهل د اسراء او معراج تاریخي پېښه مینځ ته راغله.

د حدیثو امامانو په خپلو کتابونو کې دا پېښه په پوره تفصیل سره ذکر کړې ده، چې په لنډه توګه یې په لاندې ډول را نقلوو.

امام ابن قیوم رحمه الله وایي: چې د جبرائیل علیه السلام په ملګرتیا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د شپې له خوا په براق سپو کړل شو او په همدې شپه کې له بیت الله څخه تر بیت المقدس ولاړ او په بیت المقدس کې پیغمبرانو علیه السلام ته یې د امامتۍ لمونځ ورکړ.

او بیا په همدې شپه د بیت المقدس څخه لومړني اسمان ته پورته او هلته یې د انسانانو پلار ادم علیه السلام ولید، سلام یې ورته وکړ، ادم علیه السلام یې سلام ځواب، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت یې ومانه، الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د شهیدانو روحونه د ادم علیه السلام په ښي اړخ او د بد بختو روحونه یې په چپ طرف کې ور وښودل.

بیا دویم اسمان ته پورته، اوهلته یې یحیی بن ذکریا او عیسی بن مریم علیه السلام سره ولیدل او هغوی یې هم پیغمبري ومنله.

بیا دریم اسمان ته پورته شو او هلته یې د یوسف علیه السلام سره وکتل،

بیا څلورم اسمان ته پورته او هلته یې ادریس علیه السلام سره ولیدل،

همداسې پنځم اسمان کې یې هارون بن عمران علیه السلام سره وکتل،

په شپږم اسمان کې یې موسی بن عمران علیه السلام سره ولیدل،

همدا شان په اووم اسمان کې حضرت ابراهیم علیه السلام سره یې ولیدل، سلام یې پرې وکړ او ټولو یې پیغمبري ومنله.

ترتیب: مدیر جان کوټوال

بیا سدرة المنتهی ته پورته او رب کریم ورباندې پنځوس لمونځونه فرض کړل.

کله چې بېرته موسی علیه السلام ته راورسېد؛ نو پوښتنه یې ترې وکړه، چې په څه یې درته امر وکړ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ، په پنځوس لمونځونو باندې راته امر وشو.

حضرت موسی علیه السلام ورته وفرمایل: دا کار ستا امت نه شي کولی، بیرته خپل رب جل جلاله ته ورستون او امت ته ترې اسانتیا وغواړه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورستون او رب کریم ورته لس لمونځونه کم کړل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله او د حضرت موسی علیه السلام ترمنځ تر هغې تګ راتګ کولو، ترڅو خبره پنځه لمونځونو ته راورسېده.

حضرت موسی علیه السلام ورته بیا د بیرته تګ او اسانتیا غوښتنه وکړه؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

له الله پاک څخه مې نوره حیاء راځي، په همدې قانع او د زړه له کومې یې منم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په تللو کې لږ جدا شو نو غږ وشو، ما خپل حکم اعلان او له بنده ګانو سره مو اسانتیا وکړه.

د همدې سفر په جریان کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر عجیب شیان ولیدل.

شیدې او شراب ورته وړاندې شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم شیده غوره او شراب یې ځواب کړل؛ نو ځواب ورکړل شو، چې د فطرت لار دې غوره کړه.

که چیرې دې شراب غوره کړې وای، اُمت به دې په ګډوډیو سر شوی وای.

په جنت کې یې څلور سیندونه ولیدل، همدا شان د جنهم څوکیدار یې ولید، چې په مخ کې یې د خوښۍ او خندا هیڅ نښې نه ښکاریدې، جنت او دوزخ یې هم ولیدل.

د یتیمانو مال خوړونکي یې هم ولیدل، چې د اور غټې او وړې سکروټې یې په خوله کې ننویستلې او د شا له طرفه ترې بیرته وتلې.

۶



### عید و ماجراهای تازه نامزدها

نویسنده: عبداللطیف آرش

مادردختر: الو، الو، الو صدای مه می شنوی؟

مادرپسر: بلی خوار جان صدایته می شنوم، چطوراستی؟ خوارجان، خانه خیرتی اس سنوی مقبولم چطوراس؟

مادر دختر: پشت خیرتی وجان جوری چی می گردی، بینی مره خو پیش دوست ودشمن بریدی.

مادرپسر: چی ریخته، چی پاشیده چرا قار استی خوارجان؟

مادردختر: بخیالم که تو نمی فامی که مه چرا قار استم نمی فامم چی رقم مردم استین، مچم سیال استین یا دلاک؟

مادرپسر: خوار جان مام مثل خودتان مردم خاندانی، پدر کرده و سیال استیم.

مادردختر: اگه سیال می بودین مره ایقه نمی شرماندی شمع واری دختر ره برت دادم، کجاس جوره عیدی دخترم مره خو پیش مردم به دوپیسه کدی.

مادرپسر: خوارجان همی امروز جوره عیدی ره میاریم، چرا نیاریم حتماً میاریم به دول وسرنی میاریم.

مادردختر: دول وسرنی زدن خو عادت شما مردم دلاک اس، بگو که چی میارین به دخترکم نشه که باز مه پیش مردم کم بیایم.

مادر پسر: سه دست لباس، دو جوره بوت، سامان آرایش، گوسفند، یک بوجی برنج، جلبی، روغن جوشی، میوه خشک ومیوه تازه میاریم.

مادر دختر: چقه، چقه میارین؟

مادر پسر: یک گوسفند متوسط، نیم سیرجلبی، دوسیر میوه تازه و یک سیر میوه خشک میاریم بخیر.

مادر دختر: الا بخیالم که بینیم بریده شد، اوخوار ماخو کدام جت وجولا و ازبیخ بته نیستیم، ما شکر سیال مردم استیم، سیال و سیال داری داریم، اودر او اودرزاده داریم، ما هوس و آرمان داریم، ما رواج داریم که شیرینی عیدی ره دبین مردم تقسیم می کنیم ای یک سیر ونیم سیر تره مه تاکی برسانم؟

مادرپسر: خوارجان خودت خو خبر داری که وضع ما خراب اس، و از طرف دگه چقه قیمتی اس.

مادر دختر: مره غرض نیس که وضع تان خراب اس یا قیمتی اس، اگه زورت نمی رسید زن نمی گرفتی به بچیت. اگه از چار سیر میوه خشک و شش سیر میوه تازه کم آوردی، دجویچه دان کوچه میندازمش ویک گپ که ازیادم نره بردخترم یک گردن بند طلا و دوانگشترطلا هم بیاری، دخترم هر روز گریه می کنه ومیگه مادر مره به کدام گدایگر دادی که ایچ برم امیت نمیته.

مادرپسر: خو خوار جان کوشش می کنم، باش که پیسه ما پوره کنه خوار جان. خوار جان صدای مه می شنوی الو، الو می شنوی مادر ثریا، صدای مه می شنوی؟

بخیالم که قطع کد او بچه تو برو از خالیت یک شش ازار دگام قرض بیگی که پیسه کم نشه.

### لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر د اختر په لومړۍ ورځ کادري روغتونونو او لیلیو څخه ...



ویې ویل، چې د تېر په نسبت د دوی لپاره ډېرې آسانتیاوې برابرې شوي، په پای کې محترم وزیر صاحب په یاده لیلیه کې د نورو آسانتیاوو برابرولو ژمنه وکړه.



د یادونې وړ ده، چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر په تدریسي روغتونونو کې له ټولو موجوده ناروغانو، ډاکټرانو، اداري او خدماتي کارکونکو او د کابل پوهنتون په لیلیه کې له محصلینو سره نغدي مرسته وکړه، ستونزې یې واورېدې او لازمې لارښوونې یې ورته وکړې.

### سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی نشستی با...

کمیته صلیب سرخ با درنظرداشت کیفیت دوا، انکشاف و تکمیل شود تا خدمات موثر به مردم ارائه گردد« .

سرپرست وزارت تحصیلات عالی هم چنان از مسؤولان کمیته جهانی صلیب سرخ خواست تا در تقویت، خودکفائی، ارتقای کیفیت و در قسمت بلند بردن ظرفیت های مسلکی کارمندان صحی شفاخانه های کادری نیز همکاری نمایند که از جانب مسؤولان صلیب سرخ در زمینه اطمینان داده شد.



### لوړو زده کړو وزارت علمي معین، انقرې تخنیکي...

په دغې کتنه کې د ترکیې هېواد د انقرې تخنیکي پوهنتون رئیس مراد علي د لوړو زده کړو وزارت له رهبرۍ څخه په یاد پوهنتون کې د افغان محصلینو جذب زیاتوالي او ځینو صنعتي کمپنیو کې افغان محصلینو ته د کاري زمینې پر برابرولو بحث او خبرې وکړې.

دغه راز نوموړي د لوړو زده کړو وزارت او د هېواد زوني پوهنتونونو پلاوو ته د سفر بلنه ورکړه، ترڅو دغه پلاوي په ترکیه کې له یاد پوهنتون او صنعتي کمپنیو لیدنه ترسره کړي.

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخوا له راغلي پلاوي څخه د مننې ترڅنګ، د ګډې همکارۍ په موخه د یوه ګډ تفاهم پر جوړولو، طرحې برابرولو او ورته نورو مسایلو خبرې وکړې.

همدارنګه علمي معین یاد پلاوي ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.



### معین علمی وزارت تحصیلات عالی از جریان آزمون...

هم چنان آقای خیر خواه از بخش برنامه های ماستری این پوهنتون نیز دیدار نموده مشکلات و پیشنهادات آنان را استماع و در زمینه حل آن اطمینان داد.

قابل ذکر است که از چندی به این سو پروسه اخذ امتحان بست های کادری در نهاد های تحصیلات عالی دولتی کشور بعد از اعلان از طریق وزارت تحصیلات عالی، با شفافیت کامل جریان دارد که از جانب مسوولان وزارت تحصیلات عالی از آن نظارت همه جانبه صورت می گیرد.

# سبک زندگی جوان مسلمان

ترتیب کننده: حنیفی

جوانی دوران حساس و تعیین کننده شخصیت فرد است. در این دوران غرور، احساس، شهوت و ناپختگی بر شخص سایه می افگند. چیزی که می تواند این احساسات را در مسیر سالم، هیجان و غرور را در طریق مثبت و شهوت را در مسیر مشروع هدایت نماید، برگزیدن سبک زندگی بر اساس قانون الهی است. برخی افراد به غلط جوانی را دوران نادانی و هرگونه اشتباهی را با دلیل جوانی توجیه پذیر می دانند این در حالی است که از نگاه اسلام جوانی دوران تلاش، کوشش و تفکر است. از این رو اسلام فعالیت های خردمندانه در دوران جوانی را ارزشمندتر می پندارد. یکی از مشکلاتی که در زمینه سبک زندگی اسلامی برای جوانان وجود دارد این است که برخی با سخت نشان دادن دین و سختگیری های بی جا جوانان را دلزده می کنند در حالی که اسلام ساده ترین دین الهی بوده و احکام آن با در نظر گرفتن تمام شرایط روحی و جسمی انسانها صادر شده است تا موجب کمال بشر شود. آموزه های اسلامی به دوره حساس جوانی اهمیت ویژه ای می دهد. چنان که پیامبر اعظم صلی الله علیه وسلم می فرماید: خداوند متعال به وجود جوان عبادت پیشه و باتقوا بر فرشتگان می نازد و می فرماید: این بنده من را بنگرید به خاطر من از هوای نفس خویش دست کشیده است. همچنین قرآن کریم با طرح الگوهایی از جوانان شایسته همانند اصحاب کهف و برخی از پیامبران جوان الهی و یادآوری برخی از داستان ها و نکات اخلاقی و تربیتی سیمای جوان شایسته را ترسیم می کند. با مرور آیات شریف قرآن می توان موارد زیر را به عنوان مهم ترین مؤلفه های سبک زندگی جوان مسلمان را بیان کرد:

**حق پذیری، داشتن ایمان و دوری از شرک:** قرآن کریم در ارتباط با برخی از جوانان اصحاب کهف می فرماید: ما داستان آنان را به حق برای تو بازگو می کنیم، آنان جوانانی بودند که به پروردگارشان ایمان آوردند و ما برهدایت شان افزودیم. جوانان زودتر به حقایق دل می بندد و در عمل نیز بی باک و جسور اند و اگر چیزی را حق ببیند در تثبیت آن مقاومت می کند.

**عدالت طلبی و حمایت از مظلومان:** از آن جا که جوان هنوز در نابرابری های محیط غرق نشده و به آن خو نگرفته و آلوده نشده است صفت عدالت طلبی و حمایت از مظلومان در او بیشتر تجلی دارد.

**کوشش و تلاش:** دوره جوانی زمان تلاش، کوشش و نشاط است. قرآن کریم در این باره حضرت موسی علیه السلام را یادآور می شود و او را سمبل و الگوی یک جوان فعال و تلاشگر و پرتحرک معرفی می کند که بدون سرمایه و ثروت برا ی حضرت شعیب علیه السلام کار کرد و بعد از انتخاب همسر و تشکیل خانواده با ثروت فراوان به شهر خود بازگشت.

**شهامت و شجاعت:** در سبک زندگی اسلامی جوان شایسته دارای شهامت و شجاعت است. این دو از صفات کمال انسان است که بیشتر در جوانان نمود دارد.

**عفت و پاکدامنی:** زندگی جوان مسلمان باید همراه با عفت و پاکدامنی باشد. قرآن کریم در جایی در باره حیا و عفت دختران شعیب علیه السلام می فرماید: ناگهان یکی از آن دو زن به سراغ او آمد در حالیکه که با نهایت حیا گام بر می داشت.

**پرهیز از افراط و تفریط:** پرهیز از افراط و تفریط و رعایت اعتدال از ویژگی های زندگی جوان مسلمان است. بهترین کارها معتدل ترین و میانه ترین آن هاست. جوانان در این مقطع از سن باید احساسات و شور جوانی را در خویش کنترل و هدایت کنند و از افراط و تفریط در امور بپرهیزند.

**خوش اخلاقی و تواضع در برابر مردم:** لقمان حکیم به فرزند جوانش سفارش می کند: پسرم با بی اعتنایی از مردم روی بر مگردان و مغرورانه بر زمین را نرو که خدادند جل جلاله هیچ متکبر و مغروری را دوست ندارد.

**عبادت و امر به معروف و نهی از منکر:** یک جوان شایسته باید در اقامه ی نماز بکوشد و مردم را از منکرات و زشتی ها نهی و به خوبی ها دعوت کند و در برابر سختی ها و مشکلات صبور باشد.

**نیکی به پدر و مادر:** از ویژگی های یک جوان شایسته، نیکی به پدر و مادر است. خداوند متعال جل جلاله می فرماید: به پدر و مادر خود نیکی کنید همچنین به خویشاندان و یتیمان و مسکینان و همسایه نزدیک و...

**یادآوری معاد و روز قیامت:** در زندگی جوان مسلمان هیچ گاه یاد مرگ و روز قیامت و حساب و کتاب اعمال آخرت فراموش نمی شود. لقمان به فرزند خویش می فرماید: پسرم اگربه اندازه سنگینی دانه خردلی (عمل خوب یا بد) باشد و در دل سنگی یا در گوشه ای از آسمان ها و زمین قرار گیرد، خداوند جل جلاله آن را در قیامت برای حساب می آورد، خداوند جل جلاله دقیق و آگاه است.

**اهتمام به ازدواج:** ازدواج یکی از محبوب ترین نهادها نزد خداوند و از سنت های پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم است که با آن می توان خود را تضمین کرد. جوان برای رشد خود نیازمند به آرامش روحی و فکری است و این آرامش می تواند در سایه ازدواج مهیا شود.

**دوری از هوای نفس و شهوت:** بالاترین غریزه انسان غریزه شهوت است که اوج آن در دوران جوانی است و بزرگترین مانع رشد یک جوان شهوت و هوای نفس اوست. حضرت علی علیه السلام در این باره می فرماید: هر کس از شهواتش پیروی کند به تحقیق در هلاکت به نفسش کمک کرده است.

**طلب شخصیت و عزت شخص:** جوانان در طلب شخصیت و کسب عزت نفس می باشند و مایلند هر چه زودتر شخصیتی ثابت و مستقل برای خود بسازد و موجبات رشد خود را فراهم نماید و صلاحیت های لازم را برای پذیرش در جامعه به دست آورد.

**الگویابی:** یکی از مهمترین نکات در سبک زندگی جوان مسلمان الگویابی است که در راستای رشد و شکل گیری هویت شکل می گیرد. قرآن کریم پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم را شایسته ترین الگو معرفی می نماید.

سخن آخر این که فرصت زندگی اولین نعمتی است که خداوند متعال جل جلاله به انسان ارزانی داشته است که بهترین دوره ی آن جوانی است. از این رو باید سبک زندگی به گونه ای باشد که مدیون جوانی نشویم و به گونه ای جوانی کنیم که شرمنده ی زندگانی خود نباشیم.

به قول شاعر:

از زندگانی ام گله دارد جوانی ام
شرمنده ی جوانی از این زندگانی ام

شهریار



# لس غوره وېناوې!

راټولونکی: ناصر خان شېرزی

۱. په ساده او واضح ډول سره خبرې وکړئ؛ ځکه چې دا د اسلامي شعایرو له جملې څخه دي.
۲. تاسې باید د قرآن مجید تلاوت په غور سره وکړئ، یا دا چې د نورو څخه یې واورئ، په هر حال کې تاسې باید د خپل وخت یوه برخه قرآن مجید ته ورکړئ او بې ځایه یې تېر نه کړئ.
۳. حالات او شرایط که هر ډول وي، چې کله هم د اذان اواز واورئ سمد ستي د لمانځه له پاره پورته شئ.
۴. معامله او مسئله که هر ډول وي خو تاسې په هغې کې ډېر بحث او جنجال مه کوئ، ځکه چې د بحث او جنجال څخه سمه او غوره پایله نه راوځي.
۵. کوم زړه چې د الله پاک سره اړیکې لري هغه ډېر ډاډه او مطمئن وي؛ نو له الله ج سره خپلې اړیکې قوي کړئ.
۶. په لوړ او پورته اواز سره خبرې مه کوئ، په دې کې کبر هم راځي او نورو ته زیان او ضرر هم رسیږي.
۷. د ځان څخه خندني او ریش خند مه جوړوئ، ځکه چې مجاهد او غازي قوم پرته د درونو والي څخه بل شی نه پیژني.
۸. د خلکو د غیبت کولو او په هغوی باندې د تور لګولو څخه ځان وساتئ، ستاسې له ژبې څخه باید پرته د نیکو او د خیر د خبرو څخه بل څه را ونه وځي.
۹. د هر ملګري سره چې ستاسې لومړی لیدنه کېږي؛ باید ورسره ځان پېژندنه وکړئ؛ ځکه چې زموږ د دعوت او بلنې بنسټ او بنیاد په مینه، محبت او پېژندنې باندې ولاړ دی.
۱۰. تاسې باید د خپلو ملګرو سره پوره مرسته او کومک وکړئ، چې هغوی د خپل وخت څخه زیاته ګټه پورته کړي او که پر تاسې باندې کوم مسؤولیت پروت وي؛ نو کوښښ وکړئ چې هغه په ډېر لږ وخت کې سرته ورسوئ.

# فضیلت و احکام روزه‌ی شش روز از ماه شوال

ترتیب کننده: عنایت الله حنیفی




روزه گرفتن شش روز از ماه شوال پس از پایان روزه‌ی فرض رمضان، سنتی است مستحب نه واجب. مشروع است که مسلمان شش روز از ماه شوال را روزه بگیرد که این کار از فضیلت و پاداشی بس بزرگ برخوردار است و کسی که چنین کاری بکند پاداش یک سال کامل را به دست خواهد آورد، چنانکه پیامبر مصطفی صلی الله علیه وسلم در حدیثی که ابوایوب انصاری رضی الله عنه از وی روایت کرده می‌فرماید: هر که رمضان را روزه بگیرد، سپس شش روز از شوال را در پی آن روزه بدارد، کارش مانند روزه گرفتن همه‌ی سال است به روایت مسلم و ترمذی و نسائی و ابن ماجه.

پیامبر صلی الله علیه وسلم این موضوع را اینگونه شرح داده است: «کسی که شش روز پس از فطر روزه گیرد [روزه‌اش به اندازه‌ی] یک سال کامل است :مَن جَاء بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا کسی که یک نیکی به جای آورد ده برابر آن پاداش خواهد داشت». و در روایت دیگر :خداوند هر نیکی را به اندازه‌ی ده برابر آن قرار داده، پس یک ماه به اندازه‌ی ده ماه و روزه‌ی شش روز کامل کننده‌ی یک سال خواهد بود به روایت نسائی و ابن ماجه (صحیح الترغیب و الترهیب: ۱/ ۴۲۱) و ابن خزیمه با لفظ :روزه‌ی ماه رمضان به اندازه‌ی ده برابر آن و روزه‌ی شش روز به اندازه‌ی دو ماه و این روزه‌ی یک سال است.

همچنین یکی از فواید مهم روزه‌ی شش روز شوال جبران شدن نقصی است که در روزه‌ی فرض رمضان رخ می‌دهد، چون ناگزیر روزه‌دار مرتکب کوتاهی یا گناهانی می‌شود که بر روزه‌اش تاثیر منفی خواهد گذاشت و در روز قیامت از اعمال مستحب برای جبران نقص واجبات استفاده می‌شود، چنانکه رسول الله صلی الله علیه وسلم می‌فرماید: نخستین چیزی که مردم در روز قیامت برای آن محاسبه می‌شوند نماز است. پروردگار عزوجل به ملائکه‌ی خود می‌گوید: نماز بنده‌ام را بنگرید، که آیا آن را کامل انجام داده یا ناقص ادایش نموده؛ اگر کامل بود کامل نوشته می‌شود و اگر چیزی از آن کم بود می‌فرماید: بنگرید آیا بنده‌ام نماز مستحبی انجام داده، پس اگر نماز مستحبی داشت می‌گوید: فریضه‌ی بنده‌ام را با مستحبش کامل کنید، سپس دیگر اعمال نیز بر اساس آن بررسی خواهد شد به روایت ابوداود.

دکتر یوسف قرضاوی رحمه الله در این مورد چنین نظر داشتند: «به نظر من بهتر است که این شش روز را بر تمام ماه تقسیم نماید، به گونه ای که روزه ی ششم آن در روزهای پایانی ماه شوال قرار گیرد، تا فاصله و مدت عبادت های میان روزه ها بیشتر بوده و زمان بیشتری را میان چنان عبادت مهم و بااهمیتی به سر برد و ریسمان اتصال به خدا و بندگی را قطع نکند. حال اگر روزه ها را بر دو شنبه و پنج شنبه ی ماه تقسیم نمود، آسان تر و راحت تر می شود؛ آن گونه که در حدیثی آمده است که در این دو روز، اعمال انسان به سوی خداوند بالا برده می شوند؛ به همین خاطر با روزه گرفتن در روز های دوشنبه و پنج شنبه، که خود مستحب هستند، به پاداش بیشتری دست خواهد یافت».

قابل یادهانیست که برای کسی که هنوز روزه‌ی رمضانش کامل نشده، شایسته این است که نخست قضای آن را به جای بیاورد، سپس شش روز از شوال را روزه بگیرد، زیرا نمی‌شود گفت که روزه‌ی رمضان را با شش روز از شوال پی‌گیری و کامل کرده، مگر آنکه اول روزه‌ی رمضان را کامل انجام داده باشد.

و بالله التوفیق و صلی الله علی نبینا محمد و آله و صحبه و سلم.

# له روژې مې څه زده کړل؟

لیکوال : انجینر محمد اسلم اسلم

د الله او د الله د رسول پوره تابعداري کول!

له روژې مې دا زده کړل چې له روژې وروسته هم باید د ژوند په ټولو امورو او کړنو کې د الله تعالی او د الله تعالی د رسول د اوامرو او فرامینو پوره پوره تابعداري کوم.

**سیرت او صورت په نبوي طریقه برابره ول!**

له روژې مې دا زده کړل لکه څنګه مې چې په روژه کې خپل سیرت او صورت په نبوي طریقه برابر کړی وو، داسې به یې په بوزه کې هم برابره وم.

**غیبت نه کول !**

له روژې مې دا زده کړل چې له روژې وروسته بوزه کې به هم د مسلمان ورور له غوښې خوړلو څخه ځان ساتم او غیبت به یې نه کوم.

**دروغ نه ویل !**

له روژې مې دا زده کړل چې په بوزه کې به هم د روژې غوندې له دروغ ویلو څخه ډډه کوم او په دې برخه کې به داسې فکر او انګېرنه کوم چې اوس هم سرکښه شیطانان تړل شوي او دروغ باید یا بیخي ونه وایم .

**تهمت نه لګول!**

له روژې مې دا زده کړل چې په هیڅ مسلمان ورور او مسلماني خور به تهمت نه لګوم او نه به د بهتان داغ ور پورې ترم ځکه چې دا عظیمه ګناه او ناروا کړنه ده.

**د مسلمان ورور او د مسلماني خور د پت خیال ساتل!**

له روژې مې دا زده کړل چې د مسلمان وروراو د مسلمانې د پت به پوره پوره خیال ساتم او په دې برخه کې به هر قسم قرباني د مسلمان ورور او خور د پت د خوندیتوب لپاره نه دریغه وم.

**ګناه کبیره نه کول!**

له روژې مې دا زده کړل لکه څنګه مې چې په روژه کې ګناه کبیره نه کوله داسې به په بوزه کې هم د کبیره ګناهونو څخه ځان ژغورم .

**په جمعې سره د لمانځه ادا کول!**

له روژې مې دا زده کړل چې په بوزه کې هم باید د روژې هغې غوندې پنځه وخته لمونځونه په مسجد کې په جمعې سره ادا کوم، ځکه چې په جمعې سره د لمانځه ادا کول د ټولنیزو فایدو سره سره اخروي فایدې هم لري.

**د نفلي لمونځونو ادا کول!**

له روژې مې دا زده کړل چې په خپل بوزه داره ژوند کې به د خپل وس مطابق کله نا کله د تهجدو ، اشراق، ځاښت، صلوت توبې او نورو نفلي لمونځونو په وسیله به د ثوابونو له پکېچو څخه پوره پوره ګټه اخلم.

**استغفار ویل!**

له روژې مې دا زده کړل چې په ټول ژوند کې باید خامخا وخت نا وخت استغفار خپله وظیفه وګرځوم او په دې وسله باید د خپل نفس تزکیه کوم.

**د مسنونو اذکارو ورد!**

له روژې مې دا زده کړل چې د هر سهار او ماښام په شمول د ځلرویشتو ساعتو ژوند او زنده ګې باید د مسنونو اعمالو او اذکارو په رڼا کې تېره وم.

**د قران عظیم الشان تلاوت کول!**

له روژې مې دا زده کړل چې له روژې وروسته به هم د خپل وس مطابق د ستر اسماني کتاب قران عظیم الشان یوه حصه حتمي لولم، تر څو یې له ګڼو دنیاوي او اخروي فایدو او اجرونو څخه برخمن شم.

**د صدقو او خیراتونو ورکړه!**

له روژې مې دا زده کړل چې باید د خپل بدني او مالي ژوند بدني او مالي صدقې او خیراتونه د خپل وس مطابق نورو ته ډالۍ کړم.

**حوصله او زغم!**

له روژې مې دا زده کړل چې څنګه مې په روژه کې ډېرو مواردو کې حوصله کوله او له پوره زغم څخه به مې کار اخیسته اوس له روژې وروسته دې هم باید خپل ټول ژوند په پوره حوصلې او صله رحمۍ سره تېر کړم.

**دعوتي پروګرامونه مخ ته وړل!**

له روژې مې دا زده کړل چې له روژې وروسته به په ټولو دعوتي پروګرامونو کې د برخې اخیستو سره سره خپله هم دعوتي پروګرامونه مخ ته وړم.

**په نیکیو امر او له بدیو منع!**

له روژې مې دا زده کړل چې د حدیث مطابق به په نیکیو امر او له بدیو منع دنده اجرا کوم.

**ټولنیز ژوند اختیارول!**


له روژې مې زده کړل چې خپل ټول ژوند باید د روژې د مبارکو شپو او ورځو په څېر په ټولیزه بڼه مخ ته وړم.

**له غریبو او بې وسو سره مرسته کول!**

له روژې مې دا زده کړل چې روژه کې به مې شاوخوا څوارلس ساعته خوراک او څښاک نه کاوه، نو باید درک کړم، هغه څوک چې ټوله بوزه او یا هم د بوزې اکثره وخت خوراک او څښاک نه کوي، نو د هغوی به څه حال وي؟ له ځان سره باید قوي عهد او اراده وکړم چې د غریبو به د خپل وس مطابق لاسنیوی کوم.

**تربیه او درس !**

له روژې مې دا زده کړل چې روژه د مسلمان لپاره تربیت ګاه او درس ګاه ده، نو پکار ده چې راتلوونکی ژوند د روژې میاشتې څخه د تاثر اخیستنې په توګه خپل ژوند برابر کړم.




همدارنګه سود خواره او زناکاران یې هم ولیدل، چې په مختلفو عذابونو اخته وو.

او د مکه والو تلوونکي او راتلوونکي کاروانونه یې ولیدل او د هغوی تښتېدلی اوښ یې هم ور وښود ، د کاروانیانو د خوب په وخت کې د هغوی د پټو مشکونو څخه اوبه وڅښلې او بیرته یې خولې وربندې کړې.

امام ابن قیوم وایي: د دې شپې په سبا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اولس ته ټوله کیسه وکړه او هغه لویې نښې یې ورڅرګندې کړې، چې الله پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ښودلې وې.

خو د دوی ضد او کینه لا زیاته او د ده ربړولو ته یې لا پسې ملا وتړله او ټولو ترې پوښتنه وکړه : ښه چې ته تللی وې؛ نو موږ ته د بیت المقدس په هکله معلومات راکړه؟ الله پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیت المقدس ښکاره کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې هره نښه، دروازه او کړکۍ جلا ، جلا ور وښودې، هېڅوک ونه شو کولای چې یوې خبرې ته یې هم د دروا غو ګوته ونیسي.

د هغوی د تلوونکي او راتلوونکي کاروان په هکله یې هم معلومات ورکړل او دا یې هم ورته په ګوته کړل، چې کاروان به یې څه وخت مکې ته رارسېږي او کوم اوښ به د کاروان په سر کې رارون وي.

کاروان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د معلوماتو مطابق د ښودل شوي اوښ په راتګ را ورسید ، خو د دې ظالمانو کینه او دښمني لا پسې زیاته او اسلام ته یې شا کړه، خو له دوی څخه یوازینی شخص چې تر ټولو لومړی یې رسول الله ص ریښتینی وباله، ابوبکر الصدیق رضی الله عنه و او نورو خلکو درواغجن وګڼه؛ نو له همدې کبله له همدې ورځې ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ته د صدیق لقب ورکړل شو ...



# د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

لیکوال: مولوي عبدالباقي حقاني

## ۸ عدل

اداري مشر به په ټولنیز عدالت قادر او د خپل رعیت سره به په عمل کې عدل ته پوره پاملرنه کوي.

**د عدالت د لفظ تشریح:**

عدالت داسې یو لفظ دی، چې د یادونې غوښتنه کوي او یوازې د اضافت په ډول استعمالېږي، کله چې دا عدالت په عرف کې بالقوه واخیستل شي، نو بیا په انسان کې د هغه هیئت او بڼې نه عبارت دی، چې د هغې پر مټ مساوات غوښتلی شي، او کله چې په عرف کې بالفعل واخیستل شي، نو بیا د هغه انصاف نه عبارت دی چې هغه په برابرۍ باندې بنا وي.

**د عدالت اقسام**

۱- د الله تعالی سره عدالت.
۲- د خپل ځان سره عدالت.
۳- د دین د مشرانو سره عدالت.
۴- د چا سره چې معامله وي هغوی سره عدالت.
۵- د حاکمانو سره عدالت.

هغه عدالت، چې انسان لپاره یې استعمال ضروري دی، په پنځه ډوله دي:


اول ډول: د ده او د خالق ترمنځ، هغه داسې چې دا د خپل خالق احکام وپېژني.

دویم ډول: دا چې انسان خپلې ټولې غوښتنې د خپل عقل تابع کړي،ویل شوي دي چې: ډېر عدل کوونکی هغه انسان دی چې د خپلې نفسي غوښتنې په وړاندې د عقل له غوښتنې سره سم راوان وي.

درېیم ډول: عدالت د ده او د تېر شویو مشرانو ترمنځ دی او هغه داسې، چې د خپلو مشرانو سپارښتنې پلې کوي او هغوی ته دعا کوي.

څلورم ډول: هغه عدالت دی، چې د ده او د هغه چا ترمنځ وي، چې هغه سره یې حقوقي معامله راغلې وي او دا حق خپل حقدار ته وسپاري لکه د پور په ورکولو کې، د مضاربت او د وړتیا لرونکو خلکو په قدر کولو کې.

پنځم ډول: عدالت د حکومت دی، چې د خلکو په منځ کې د خیر غوښتنه




کوي، چې دا د لوړپوړو او د دوی د ټیټ پوړو حاکمانو کار دی.

**په حاکمانو کې د عدالت د صفت اهمیت**

کله چې حاکم او مشر د خلکو د مالي او کاري حقوقو خیال وساتي او د عدالت نه په کې کار واخلي، نو په دې صورت کې خلک د دې مشر او قائد تر رهبرۍ لاندې په ژوند تېرولو کې د ډاډ او آرام ساه اخلي او کار کولو ته هڅول کیږي؛ نو دې سره هېواد ودانیږي او دغه آبادي لا پراختیا مومي، اقتصاد وده او پرمختګ کوي، چې په نتیجه کې د خلکو د ژوند کچه لوړیږي او د هېواد عام وګړي شتمن او د مال خاوندان ګرځي.

د کاري وړتیا او پانګې سره دولت هم تقویت مومي، چې له امله یې په یو ملک کې د پاچا واکمنۍ ته د پایښت زمینه برابروي. او برعکس د دې که پاچا د خلکو مال او حقوقو ته لاس اچوي، تېری کوي او خلکو ته خپل حقوق پوره نه رسېږي؛ نو خلک یې له امله خوا بدي کېږي، کار ته یې ډډه نه لرېږي او اقتصادي پرمختګ په ټپه درېږي، ځکه دوی په دې حالت کې د ډاډ او آرام احساس نه کوي، ژوند ، سر او مال یې په وېره کې وي؛ نو د هېواد اقتصادي حالات بېخونده او تاوان سره مخ کېږي، آبادي کمېږي او په نتیجه کې د حکومت دوام ناشونی او له منځه ځي.

حاکم یوازې خپل کار کې د خپلې هر اړخیزې پاملرنې په مټ ځان نشي خلاصولی، بلکې مسؤلیت لري څو عام اعلان وکړي، چې رشوت اخیستل زما په نزد جرم دی، که چېرته زما په مسؤلینو کې یو تن له چا نه د رشوت غوښتنه وکړه؛ نو یاد شخص باید رشوت ورنکړي او موږ دې پرې خبر کړي.

د حاکم د دې خبرتیا نه وروسته که چېرته داسې عمل رامنځ ته شو ، له اخیستونکي دې پیسې واخیستل شي، خپل مالک ته دې ورکړل شي او رشوت اخیستونکي ته دې سزا ورکړي، ځکه عدل کول د هر چا په حق کې یو واجب عمل دی؛ خو د حاکمانو په حق کې بیا ډېر لازمي او حتمي دی.

د پاچا او حاکم په ټولو صفاتو کې بهترین صفت عدل دی، چې له برکته یې د دولت قیام او ټینګښت راځي، د خلکو د اطاعت او الفت لامل ګرځي، دې سره د اعمالو اصلاح او د مالونو ډېروالی رامنځته کېږي، رعیت قوي کیږي او د کمال فضیلت یې بشپړیږي.

الله تعالی خپل مخلوق عدل ته رابللی او خلک یې عدل ته هڅولي دي.

هغه حاکم، چې د عدالت په پلي کولو حکومت کوي او په رعیت ظلم نه کوي الله تعالی ورسره مرسته کوي، رعیت یې پوره اطاعت کوي، د لښکرو ساتلو او تیارولو ته یې اړتیا نه وي او د جنګ جګړو نه په امان وي، چې د داسې حاکم حکم او امر منل فرض ده، چې ټول رعیت د ده د لښکر حیثیت لري او د ده امر او اشارې ته لارې څاري.